آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۱۴

# د یو چا د یو نازک خاطر له پاره

سـختي ســـوختي وړمـــه،
دا نـــا دودي د دنیا وړمـــه
سپوږي ستوغي راغـــلـي،
بڼي او بدي د هر چا وړمه
چا یو وخت راتووي:
ځوانه څه کوي؟
ما وي:
د یو چا د یو نازک خاطر له پاره
دا دی ناست سترګي په لار یمه
*****
سترګو رپ کي لوی شومه
هلک ومـــه، سړی شومه
تېکنده غرمه شوله
ښه پوخ لکه جواری شومه
بیا یو چا را غږ کړو:
ښه هوښیار سړی یې او بیا څه کوې؟
ما وي:
د یو چا د یو نازک خاطر له پاره
دا دی نـــاست سترګي په لار یمه
*****
آغه دی یخ راغی، ژمی راغی
سپینه واوره ور ســـره راغله
پاس پر ســــــر او بریتو مي
آرامـــه نـــرمـــه پـــریوتـــه
بیا یو چا راغږ کړ:
بوډا څه کوې؟
ما وي:
د یو چا د یو نازک خاطر له پاره
دا دی نـــاست سترګي په لار یمه

۲۰۱۴/۰۹/۱۶ هیدرسلیف ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ